

نن ټکی آسیا

# د تلویزیون مفاسد او ضررونه

لیکنه: ابو خلیل قدوسی

# دتلوېزيون مفاسد اوضررونه

الله تعالی په خپل پاک کلام قرانکريم کي مسلمانانو ته خطاب کوي فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا (70) يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا (71) الأحزاب

اې دايمان څښتنانو له الله تعالی څخه ووېرېږئ او روغه ويناکوئ الله تعالی به ستاسو عملونه روغ کړي اوستاسو ګناهونه به درته وبښي او چاچي دالله تعالی او دهغه درسول ومنل نو هغه په ستره کاميابي سره کامياب شو .

دهمدغه ذکرشوي ايت کريمه دمحتوا په اساس کومه سپينه خبره چي ديوه وېښ مسلمان زړه يي ويل غواړي هغه داده چي دزيات ترو مسلمانو کورنيو داخلي حالت او اخلاقي وضع مخ په خرابېدلو روانه ده ، دا دهغو فاسدوخپرونو په وجه چي محلي تلوېزيونونه اونړېوال هوايي چاينلونه يي خپروي کوم چي هرکورته دتلوېزيون په پلمه ننوتلي دي ، داچي تلوېزيوني هينداره څومره خطرناکه ده او کوم ضررونه په برکي لري ددې لپاره مونږ دا لاندي کرښي دلوستونکيو داستفادې لپاره ځانګړې کړي دي، کله چي يو هوښيارمسلمان لوستونکی دا لاندي کرښي وګوري هرومرو به ددې پرېکړه وکړي چي يوه غيرت من مسلمان ته په کار نه ده چي دا دفساد اله دخپل کور انګړ ته دننه کړي ځکه چي مسلمان ته چي کله هم حق څرګند شي بيا دحق له منلو څخه سرنه غړوي.

الله تعالی فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا (36) الأحزاب

او هيڅ مسلمان نارينه او مسلماني مېرمني ته ددې اجازت نشته چي کله الله تعالی او دهغه رسول ديوه کار په هکله پرېکړه وکړي او هغوی د(يي په منلو او يانه منلو ) کي خوښ رضا شي او چاچي دالله تعالی او دهغه رسول له حکمونو څخه سرغړونه وکړه نو په څرګنده ګمراهي سره بېلاري شو .

داهم ضروري نه ده چي دتلوېزيون هغه فاسد اړخونه کوم چي مونږ يي دبيانولو تکل کړی دی هغه دټول په لوستونکي باندي تطبيق وي او ددې دا معنا هم نه ده چي که يو څوک دتلوېزيون له منفي اړخونو څخه ځان ساتي نو ساتل او په کور کي اېښودل يي جواز ورته لري داځکه چي که دتلوېزيون يو ضرر هم جوته شي دهغه دحُرمت او نارواتوب لپاره کفايت کوي ولوکه دا بحث دفتوا بڼه نلري اونه مونږ دفتوا دصادرولو په مقام کي يو خو بيا هم دا زمونږ ايماني مسئوليت دی چي پلرونو او دکورنيو مشرانو او مسئولينوته يو خلاص ليک ولېږو ترڅو هغوی دداسي توکودمتوقع ضررونو دمخنيوي او دکورني چاپېريال دپاک ساتلو په خاطر تلوېزيون په تېره بيا کيبل اوهوايي تيغنه (ډش ) دکورونو انګړونو ته دننه پرې نږدي .

کوم ضررونه چي تلوېزيون او دهغه روستاړونه لکه کېبل ، ډش او داسي نورتوکي لري دهغه مسئوليت په لومړي قدم کي په واکمنانو باندي دی څوک چي کولای شي هغه تر مراقبت لاندي ونيسي او يا وربندي خپرېدونکي مواد سانسور کړي او يا دچاينلونو چلوونکيوته دکار سالمي لايحې او يا فرمانونه صادر کړي، په دوهم قدم کي دعلماوو او داعيونو دنده ده چي هغوی عام مسلمانان وپوهوي او د تلوېزيون منفي اړخونه او مفاسد ورته بيان کړي ، په درېيم قدم کي دوالدينو او دکورونو د مشرانو دنده ده چي داسي ناولي توکي دکور دننه ته پرې نږدي.

عن بن عمر انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول كلكم راع وكلكم مسؤول عن رعيته الإمام راع وهو مسؤول عن رعيته والرجل راع في أهله والمرأة راعية في بيت زوجها والخادم في مال سيده (الأدب المفرد )

له ابن عمر رضي الله تعالی عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي چي ماله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چي هغه وفرمايل: په تاسو کي هريو واکمن دی او له هريوه څخه به دهغه چا په هکله پوښتنه کېږي چي تر واک يې لاندي وي ، پاچا واکمن دی او د الله تعالی په وړاندي دخپل ولس مسئول دی، نارينه واکمن دی او د خپل کور په هکله الله تعالی ته مسئول دی ، ښځه د نارينه په کور کي واکمنه ده ( او الله تعالی به د خاوند دمال ، اولاد، او دانګړ دعفت پوښتنه ورڅخه کوي ) نوکر د بادار په مال او شتمني کي واکمن دی .

اوس به مونږ ګرانو لوستونکيوته د تلوېزيون مفاسد او أضرار جوته کړو الله تعالی د مونږ ته دحق ويلو او په حق دعمل کولو توفيق راکړي.

(۱) پرديو ښځوته کتل:

په دې کي هېڅوک هم ديوې ذرې شک نلري چي هغه څوک چي تلوېزيون ګوري هغه د تلوېزيون په هينداره دپرديو ښځوزوندي متحرک انځورونهويني ، او پرديو ښځو ته او يا دهغوی انځورونو ته کتل شرعا يو حرام کار دی او دمسلمان غيرت وژني ځکه چي الله تعالی فرمايي:

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ (30) وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ (31) سورة النور

ووايه (اې محمده ) نارينه مسلمانانو ته چي خپلي سترګي دي (له حراموکتلو ) پټوي او خپل شرم ځايونه د ساتي دا دهغوی د پاکي لپاره غوره لاره ده او الله تعالی په هغه څه ښه خبردی کوم چي دوی يې کوي او مسلمانو ښځو ته ووايه چي هغوی دي هم خپلي سترګي(له حرامو کتلوڅخه ) پټي ساتي او دخپلو شرم ځايونو دي په پرده کي حفاظت وکړي او خپل ښايست دي نه لوڅوي.

دا خطاب هغه چاته دی څوک چي پرديو ښځو ته ګوري او څوک چي د تلوېزيون په هينداره دپرديو ښځو مخونه ، غالباً وېښتان ،همدا راز لوڅو سينو ، اونيم يا بشپړ لوڅو اجسامو ته ګوري لکه څاروي چي په زمکه روان وي هغه خو به هرومرو دهمدغه تلوېزيون له ليدلو او کتلو وروسته دخپل شهوت دسړولو اودعملي تطبيق لپاره دهغه څه تلاش کوي کوم چي الله تعالی حرام ګرزولي وي په تېره بيا ځوانان کوم چي

دعٔواني په جوش او جنوني پړاو کې وي.

(٢) پردیو نارینه ووته کتل:

په عین شکل کله چې تلوېزیون دکور په دننه کي اېښی وي دکور مېرمني یې هم حتماً ګوري او دتلوېزیون په هینداره لکه چې نارینه وو ته پردي ښځي ورښکارېږي همدا راز دکور مېرمنو ته دپردیو نارینه وو څېرې او اجسام ور ښکارېږي چې دمخکې ذکرشوي ایت کریمه په اساس یې مېرمنوته هم لیدل نه دی روا، همدا راز نارینه کله نیم لوڅ هم وي او کله بیا دبې حیایي په حالت کې وي، او کومي کیسې، ډرامې او یا افسانې چې نن سبا یې تلوېزیونونه خپروي غالبا دمیني او عشق په موضوع راڅرخېږي کوم چې مسلمانو کتونکیو او لیدونکیو ځوانانو او پېغلو ته دنامشروعو اړیکو دجوړولو زده کړې ورکوي او د کوم نارینه مېرمن چې تلوېزیون ته ګوري او دپردیو نارینه وو په لیدلو او دهغوی دعشقي خبرو اترو په اورېدلو خوندونه اخلي د هغه نارینه غیرت به چېرته وي او ایا هغه ته غیرتمن مسلمان ویلای شو ؟

(٣) اجنبي فاسد فرهنګ تېتول:

تلوېزیون دلوېدیزي ټولني کلتور او دهغوی فاسد اخلاق خپروي کوم چې مسلمان لیدونکي دېته پاروي چې دهغوی بڼه او عادتونه خپل کړي ، هغوی چې کومي نیم لوڅي جامې او یا تنګ کوټونه او پتلونونه په تلوېزیون ښکاره کېدونکیو ښځینه هنر مندانو او دفېشن ستوریو ته وراغوندي مسلمان ځوان او پېغله هم دې ته هڅوي چې په بېلابېلو مناسبتونو کي همدغه فېشنونه استعمال کړي، حتی چې په ځینو اسلامي هېوادونوکي خو دودونو اوکوژدو مراسم په هغه شکل سرته رسېږي کوم چې یې لېدونکي دډرامو او سلسله وارو داستانونو په بڼه کي دتلوېزیون په شیشه ګوري، کوم ماشومان چې تلوېزیون ګوري هغوی له مور اوپلار سره هغه چلند خپلوي کوم چې یې په همدغو ډراموکي دلوېدیز ماشومان له والدینوسره کوي.

هغه مېرونه چې هندي او غربي فیلمونه ګوري هغه پخپل کور کې له مېرمني سره هغه تګلاره خپلوي کوم چې یې په فیلمونو کي دفیلمونو کار کوونکي تمثیلوي ، حتی ځیني ځوانان چې کوژده کوي غواړي له هغه چا سره واده وکړي چې مخکې یې دمیني اړیکي ورسره ساتلي وي داځکه چې هغه په همدغو فیلمونو کي لیدلي وي چې دفیلم کار کوونکي تر واده له مخه له خپلي معشوقي سره نامشروعي اړیکي ساتلي او مینه کړې وي .

ځکه خو زمونږ ګران پیغمبر دبشریت دنجات داعي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

ومن تشبه بقوم فهو منهم (رواه أبو داود وأحمد )

اوچاچي دیوه قوم بڼه خپله کړه نو هغه له هماغه قوم څخه دی.

(۴) دوخت ضیاع:

دمسلمان لپاره وخت ترهرڅه زیات ارزښت لري او هغه څوک چې تلوېزیون او په هغه خپرېدونکي ډرامې ،

داستانونه او فيلمونه ګوري مونږ او تاسو يي وينو چي په ساعتونو ساعتونو ورته ناست وي او زيات وخت يي بې ګټې ضايع کېږي ، وخت هغه قېمتي سرمايه ده چي يو ځلي له لاس څخه ووتله بيا په هېڅ شکل بېرته نه راګرزي او الله تعالى به مسلمان دقيامت په ورځ دوخت په هکله ترحساب او کتاب مخکي پوښتي :

عن مُعَاذِ بن جَبَلٍ قال قال رسول اللّه صلى اللّهُ عليه وسلم لا تَزُولُ قَدمَا عَبْدٍ يوم الْقِيَامَةِ حتى يُسْأَلَ عن أَرْبَعِ خِصَالٍ عن عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلاهُ وَعَنْ مَالِهِ من أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ وَعَنْ عِلْمِهِ مَاذَا عَمِلَ فيه (المعجم الكبير)

له معاذ بن جبل رضي الله تعالى عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : د بنده پښې به د قيامت په ورځ تر هغه وخته له ځايه ونه خوځېږي تر څو چي د څلورو شيانو پوښتنه ورڅخه ونشي، د ژوند پوښتنه چي په څه کي يې تېر کړ ، او د ځواني پوښتنه چي په څه شي کي يې زړه کړه ، او د شتمني پوښتنه چي په څه شکل يې لاس ته راوړه او په څه شي کي يې ولګوله او د علم پوښتنه چي کوم عمل يې پکي سرته ورسولو .

هغه څوک چي خپل وخت دتلوېزيون په ليدلو تېروي هغه ته په کار ده دتلوېزيون تر کتلو مخکي د قيامت دهمدغه محضر تصور وکړي کوم چي به الله تعالى ورڅخه دوخت په هکله پوښتنه کوي ايا هغه به په ځواب کي دا ورته وايي چي فېلمونه او ډرامې مي کتلې؟ ايا تردې به بل ستر خجالت وي ؟

ځکه خومسلمان همدغه د وخت قېمتي سرمايه يا ددنيوي کارونو په روغولو او يا دالله تعالى په بندګي لګوي ترڅو دهمدغه ډول پوښتنو ځوابولو لپاره دقيامت په ورځ لاځواب پاته نشي .

عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس: الصحة والفراغ (البخاري)

عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنهما روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دوه نعمتونه دي چي زيات خلک پکي دوکه شوي دي چي هغه روغتيا او (فراغت) بېکاري ده

دا معنا چي ډېروخلګو ددې په وجه چي له دې دوو نعمتونو څخه يي کومه ګټه نه دى اخيستي دوکه شوي دي او په تاوان کي دي.

عن بن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لرجل وهو يعظه اغتنم خمسا قبل خمس شبابک قبل هرمک وصحتک قبل سقمک وغناءک قبل فقرک وفراغک قبل شغلک وحياتک قبل موتک(المستدرک على الصحيحين)

له ابن عباس رضي الله تعالى عنهما څخه روايت شوى دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه سړي ته نصيحت کولو او ورته و يې فرمايل : پنځه شيان تر پنځو نورو شيانو مخکي غنيمت وګڼه: ستا ځواني ستا تر بوډاتوب مخکي ، ستاروغتيا ستا تر رنځ مخکي ، ستابډايتوب ستا تر احتياج مخکي ، ستا فراغت ستا تر

ناخلاصي مخکي ، او ستا ژوند ستا تر مرګ مخکي .

(۵) دلمونځونو ضياع:

دتلوېزيون ليدونکي غالباً له لمونځونو څخه غافل وي او چې څوک دلمونځونو پابند وي هغوی هم کله ناکله ديوه فيلم دکتلو په وخت چې کله اقامت او يا اذان وشی نشي کولای هغه نيم کتلی فيلم او يا ډرامه پرېږدي ترڅو لمانځه ته ولاړشي، او چې کله هغه مسلسل ختم شي او لمانځه ته ولاړ شي د لمانځه وخت ورڅخه تېر شوی وي ، او که وخت پاته هم وي خودجماعت فضيلت ورڅخه فوت شوی وي او چې کله دفيلم او يا ډرامې په مېنځ کي ولاړ هم شي خو په لمانځه کي د پاته فيلم او يا ډرامې سوچ ورسره وي چې دهمدغه سوچ په وجه لمونځ په خشوع او خضوع او يا اطمينان سره نشي اداکولای .

الله تعالی فرمايي :

فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (4) الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5) سورة الماعون

دجهنم ژوره کنده او يا سخت عذاب دی دهغو لمونځ کوونکيو لپاره چې له خپلو لمونځونو څخه غافل وي.

مفسرين ددې ايت کريمه په تفسير کي ليکي چې سخت عذاب دهغه چا لپاره ده چې لمونځ خو کوي خو يا يې پخپل وخت کي نکوي او يا لمونځ دزړه په حضور، اخلاص او په خشوع او خضوع سره نکوي .

څکه خو وايو کوم مسلمان ليدونکی چې نيمه ډرامه او يا مسلسل کتلی وي او دلمانځه وخت وربادي راشي هغه خو به يا ددې مسلسل ليدل بشپړوي او يا به لمانځه ته ځي هغه که لمانځه ته ولاړ هم شي خولمونځ به يې له خشوع او عاجزي څخه تش پاته وي ځکه چې زړه به يې په هغه څه مشغول وي کوم چې يې په تلوېزيون نيم ليدلی او نيم ورڅخه پاته وي.

(۶) دماشومانو ګمراه کول:

همدغه راز هغه فيلمونه او يا کرتونونه چې ماشومان يې ګوري دهغوی په سلوک او اخلاقو باندي ناوړه اغېزي پري باسي ، او ماشوم چې څه دتلوېزيون په شيشه ويني هغه سمدلاسه په عمل کي پياده کوي ، په دې اساس پلرونو او دماشومانو سرپرستانو او روزنکيو ته دا توصيه کېږي چې له الله تعالی څخه ووېرېږي اوخپل ماشومان دتلوېزيون له کتلو څخه لېري وساتي او دهغوی وخت ددين په زدکړه او دقرانکريم په يادولو او په هغه څه کي ولګوي چې هغوی ته يې ګټه په دنيا او اخرت کي رسېږي .

الله تعالی فرمايي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (6) سورة التحريم

اې د ايمان خاوندانو وساتئ ځانونه خپل او عيالونه خپل له هغه اور څخه چې اوربل يې خلک او ډبري دي، په هغه باندي سخت او بې زړسوي ملايکه ( مقرر ) دي چې د الله تعالی د اوامرونافرماني نه کوي او هغه څه

کوي چي حکم يې ورته کيږي.

(۷) دموسيقي او سندرو اورېدل:

هغه سروزونه او سندري چي د کتاب الله په ايتونو او نبوي احاديثو يې حُرمت ثابت شوی دی دتلوېزيون کتونکي او ليدونکي اوري او ګوري،او هغه څوک چي سندري او موسيقي زيات اوري دهغه زړه د الله تعالی له ياد او دقرانکريم له تلاوت او دعبادتونو له کولو څخه غافل کيږي چي دايي د وخت په ضياع سربېره يو بل نقصان دی.

الله تعالی فرمايي:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ (6) سورة لقمان

له خلکو څخه ځيني هغه کسان دي چي په بيه اخلي ( لهو الحديث ) تر څو په ناخبري سره د الله تعالی له لاري څخه نور خلک بې لاري کړي او هغه ساتيرى وګرځوي د همدغو کسانو لپاره سپک ګرځوونکی عذاب دی اوکله چي د الله تعالی ايتونه ورته تلاوت کيږي په ډېر غرور سره ورڅخه مخ اړوي لکه چي غوږونه يې درانه وي نوته هغوی ته د ځوروونکي عذاب زېری ورکړه.

د امت ستر عالم عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما د (لهوالحديث) تفسير په سندرو ويلو (غناء) سره کړی دی او بل مفسر عالم مجاهد د هغه تفسير په دريا (الطبل) سره کړی دی (تفسير الطبري)

حسن بصري رحمة الله تعالی عليه د لهوالحديث تفسير په موسيقي او د موسيقي په الاتو سره کړی دی (تفسير ابن کثير)

ابن القيم رحمه الله فرمايي: چي د لهو الحديث لپاره د صحابه کرامو او تابعينو همدغه په موسيقي سره تفسير کفايت کوی او له ابن عباس او ابن مسعود رضي الله تعالی عنهم صحيح روايتونه همدغه را نقل شوي دي. ابو الصهباء وايي چي ما له ابن مسعود(رض) څخه د الله تعالی د همدغه ذکر شوي قول د تفسيرپه هکله پوښتنه وکړه هغه په ځواب کي راته وويل:

والله الذي لا إله غيره هو الغناء - يرددها ثلاث مرات.

ځما د قسم په هغه ذات وي چي له هغه څخه ماسوا بل معبود نشته لهو الحديث همدغه سندري ويل دی او دري ځلي يې دا خبره غبرګه کړه ، له عبد الله بن عمر رضي الله تعالی عنهما څخه صحيح روايت شوی دی چي لهو الحديث سندري ويل دی (اغاثة اللهفان لابن القيم)

بل ځای الله تعالی فرمايي:

أَفَمِنْ هَذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ (59) وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ (60) وَأَنْتُمْ سَامِدُونَ (61) سورة النجم

اياتاسو پدي خبرو(قرانکريم) حيران ياست (دروغ يې ګڼئ) او خاندئ (مسخري کوئ) او نه ژاړئ

(دهغوسختوعذابونوپه وجه چي تاسو ورسره مخامخ کېدونکي ياست)او تاسو په غفلت کي ياست (سروزونه غږوئ) (الجلالين)

عن أبي مالک الأشعري قال سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول: ليکونن من أمتي أقوام يستحلون الحر والحرير والخمر والمعازف (البخاري)

له أبو مالک الأشعري رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي ماله رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چي هغه وفرمايل: زما په أمت کي به داسي کسان پيداشي چي زناکول او دورېښمينو کاليو اغوستل او دشرابو څښل او دسروزونوغږول او اورېدل به حلال ګرزوي.

(۸) دنبوي سېرت او دصحابه وو دکردارتوهين:

لکه چي يي کتونکيويني دتلوېزيون په هينداره غالبا داسي ډرامي او داستانونه هم خپرېږي چي هغوی يي اسلامي ګڼي خو کارکوونکي يي په هغو کي ددې لپاره ددروغوزياتوالی کوي چي دهمدغوموادو جالبيت زيات کړي چي په دې توګه درسول الله صلى الله عليه وسلم دمبارک سېرت او دهغه داصحابو رضي الله تعالى عنهم درول قصدي او ياضمني توهين او سپکاوی کېږي او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من کذب علي متعمداً فليتبوأ مقعده من النار(متفق عليه)

له أبوهريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چاچي په قصدي توګه په ماباندي دروغ وتپل نو دځان لپاره دپه اورکي دناستي ځای ونيسي.

(۹) دبدعاتو خپرول:

دتلوېزيون په مخ ډېر داسي کسان ليدل شوي دي چي هغوی د لاعلمي او يا دمادي ګټو دلاس ته راوړلو په موخه ددين تر پرده لاندي داسي معلومات وړاندي کوي چي هغه په اسلام کي هيڅ اساس نلري چي ياخو يي خپروونکي ديني پوهنه نلري او ياخو له علماوو څخه پوښتنه نکوي او يا ددې ډول تحريفي افکاروپه بيانولو ورته داسلام ددښمنانو لخوا معاوضه ورکوله کېږي چي دې ته بدعات ويل کېږي او خپروونکي يي دهمدې ډول نيمګړو معلوماتو په وسيله ساده لوحه مسلمانان بېلاري کوي.

لکه دنارينه له مړيني څخه وروسته چي يي مېرمن توري جامي واغوندي، او يا په قبرونو دګلونو ګېډۍ کېږدي او داسي نور څه چي په اسلامي شريعت کي ځای نلري او ليدونکی يي ددديني اومذهبي پروګرامونو تر سرليک لاندي تل دتلوېزيون په شيشه ګوري.

عن ابن أبي أوفى قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الخديعة في النار وَمَنْ عَمِلَ عَمَلًا ليس عليه أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ (البخاري ومسلم)

له ابن ابي أوفى رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دفرېب

کولو او دوکې کولو ځای د دوزخ اور دی او چاچي (دثواب په نيت ) يو داسي کار وکړ چي مونږ يي ورته حکم نوي کړي نو هغه عمل مردود (نامنل شوی ) دی.

(۱۰) درېښتيا او دروغو دخبرونو خپرول:

هغه ثوک چي دتلوېزيون دچاينلونو چلوونکي وي دخبرونو او تحليلونو په وسيله دېرديو دچوپړ لپاره حقايق بدلوي او يو ساده لوحه مسلمان وربانديي غولوي ، لکه نن سبا چي يي مونږ ګورو چي ټول خپرندويه وسايل دتلوېزيون په شمول دترورېزم تر پرده لاندي هغه دروغ خپروي چي يو مسلمان ته يي ليدل او اورېدل په هېڅ شکل جواز نلري ، داځکه چي دا ډول تبليغات عامه ذهنيت ګمراه کوي ، جهاد چي يو اسلامي اصل دی تحريف کوي ، داسلام ځلانده څېره داغداره کوي ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ دداسي دروغو له اورېدلو او نقلولو څخه منع کوي.

همدا رازتلوېزيوني چاينلونه نن سبا دديموکراسي او جمهوري ارزښتونوپه هکله چي يو غربي کلتوردی بصري او سمعي تبليغات خپروي چي ددېنداره او بې دينه ، عالم او جاهل، ښه او بد، مجرم او بېګناه توپيرپکي نه کېږي او عام مسلمانان وربانديي غولوي.

عن حَفْصِ بن عَاصِمٍ قال قال رسول اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ ما سمع (صحيح مسلم )

له حفص بن عاصم رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دانسان لپاره همدغه دروغ بس دي چي څه يي واورېدل او هغه يي بيان کړل.

الله تعالی فرمايي:

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ (35 ) مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ (36 ) سورة القلم

ايا مونږ مسلمانان هم داسي وګڼو لکه مجرمان تاسوته څه پيښه ده ، تاسو څرنګه پرېکړي کوئ؟

(۱۱) دتلوېزيون دمالک ګناه:

هغه چاچي دا تلوېزيون يي راوړی او يايي په بيه اخيستی وي ثوک چي داتلوېزيون ګوري او يا ورته ناست وي دټولو ګناه دهمدغه مالک په غاړه ده او چي کله مړ شي نو همدغه ګناه ورڅخه په مېراث پاته ده او چي ترکومه وخته پوري همدغه تلوېزيون وي دګناه سزا يي مالک ته په قبر کی ورکوله کېږي، همدا راز ثوک چي يي ډېرامو او فيلمونو په کتلو او ليدلو عادت کړي وي دهغوی دهمدغي ګناه سزا هغه ته هم ورکوله کېږي.

عن المنذر بن جرير عن أبيه قال قال رسول اللَّهِ صلى الله عليه وسلم من سَنَّ في الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ من عَمِلَ بها بَعْدَهُ من غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ من أُجُورِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ في الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كان عليه وِزْرُهَا وَوِزْرُ من عَمِلَ بها من بَعْدِهِ من غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ من أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ (رواه مسلم )

له منذر بن جرير رضي الله تعالى عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :چاچي په اسلام کي يوه ښه لاره جوړه کړه نو دده لپاره دهمدغي لاري او دهغه چا ثواب دی څوک چي له ده څخه وروسته په همدغه لاره ځي بيله دې چي دهغوی له ثوابونو څخه څه کم شي ، اوچاچي په اسلام کي يوه بده لاره جوړه کړه نو دهغې لاري په ګناه سربېره دهغه چا ګناه هم ورپه غاړه ده څوک چي له ده څخه وروسته په همدغه لاره درومي بيله دې چي دهغوی ګناهونه کم کړي.

## (۱۲) دالله تعالى له ياد څخه دخلکو مشغول کېدل:

مسلمان چي کله عادتاً دماخوستن لمونځ وکړي داخوښوي چي وختي ويده شي ترڅو دشپې په وروستۍ نيمايي برخه کي له خوب څخه راپاڅي او دتهجد لمونځ وکړي اويا په جماعت سره دسهار لمانځه لپاره تياري ونيسي خو سرچپه هغه څوک چي دماخوستن له لمانځه څخه وروسته تلوېزيون ته کيني هغه دشپې تر نيمايي پوري خبرونه او ډرامې او يا فيلمونه ګوري چي په نتيجه کي يي همدغه وخت هم دالله تعالى له ذکر څخه خالي وي او دشپې تهجد خو څه کوي چي دبېخوبۍ په وجه دسهار لمونځ هم ورڅخه پاته کېږي او دا طلايي فرصتونه يي له لاسه وزي او که يي وهم کړي خو هغه روح پکي نه وي کوم چي ديوې فريضې له ادا کولو سره ښايي .

عن أبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قال يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إلى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حين يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ يقول من يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ له من يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ من يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ له (البخاري)

له ابو هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى هره شپه دشپې په وروستۍ درييمه برخه کي د دنيا اسمان ته (بلاکيف څرنګه چي د هغه له شان سره وړ وي ) راښکته کېږي او وايي : څوک دی چي له ما څخه کومه دعاوغواړي او زه يي هغه دعا قبوله کړم ؟ څوک دی چي له ما څخه يوڅه وغواړي او زه يي ورته ورکړم ؟ څوک دی چي له ما څخه ښننه وغواړي او زه ښننه ورته وکړم.

## (۱۳) تلوېزيون او ښځينه:

کله چي نارينه له کور څخه دباندي وي يا کار ته تللی وي او يا په سفر تللی وي که دالله تعالى وېره او تقوا نه وي بل هيڅ داسي مانع نه وي چي مېرمن او ماشومان د تلوېزيون له بې قيده کتني څخه راوګرزوي، هغه څوک چي ددې دعوا کوي چي هغه خپله کورنۍ دفيلمونو له کتلو څخه منع کړې دي، ايا دهغه نارينه دامنع به دهغه په غياب کي کومه اغېزه ولري ؟

داخودهغه چا لپاره چي عادي تلوېزيون لري او چاچي هوايي تېغنه (ډش ) او يا کېبل لګولی وي چي دټولي نړۍ چاينلونه رانيسي او په سل هاووغير اخلاقي او بې حياء کانالونه رانيسي دهغې کورنۍ به څه حالت وي ؟

کله چي مسلمانه مېرمن د نارينه په نه موجوديت کي دتلوېزيون په شيشه پردي داسي نارينه ويني چي دهغې ترخاوند هم په څېره کي ښايسته وي او هم په قوت او طاقت کي زيات ښکارېږي ايا همدغه مېرمن به له هغه داخلي قناعت څخه نه محرومه کېږي کوم چي يې دخپل خاوند په وړاندي خپل کړی وي ؟ او ايا دمېرمني هغه دپاکي ميني اړيکي به چي له خپل نارينه سره يې لري روغي پاتي شي ؟

ځکه خو الله تعالى مسلمانان په دې مکلف ګرزوي چي خپل دکور افراد له داسي عملونو او ګناهونو څخه وژغوري کوم چي سزا يې ددوزخ اور وي الله تعالى فرمايي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (6) سورة التحريم

اې د ايمان خاوندانو وساتئ ځانونه خپل او عيالونه خپل له هغه اور څخه چي اوربل يې خلک او ډبري دي، په هغه اور باندي سخت او بې زړسوي ملايکه ( مقرر ) دي چي د الله تعالى د اوامرونافرماني نه کوي او هغه څه کوي چي حکم يې ورته کېږي.

## (١۴) په ګناهونو کي ډوبېدل:

کله چي يو مسلمان دتلوېزيون دکتلو او په هغه دخپرېدونکيو فيلمونو او ډرامو دليدلو عادي شي هغه بيا دګناه احساس نکوي، په عربي ژبه کي متل دی وايي :

إذا كثُر المساس فُقِدَ الإحساس

چي ډېرشي تماس، ورک شي احساس.

ربښتيا هم ځوک چي ډېمي او فيلمي کار کوونکي نجوني دتلوېزيون په مخ ويني او ورته ګوري او حرامي سندري چي ناچ او ډانسونه پکي وي ګوري هغه يې ګناه نه ګڼي که يې ګناه ګڼلای نه به يې ورته کتل دا ډول حالت لاندي حديث شريف داسي بيني :

عن حذيفة قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : تعرض الفتن على القلوب كالحصير عودا عودا فأي قلب أشربها نكت فيه  نكتة سوداء ، وأي قلب أنكرها نكت فيه نكتة بيضاء ، حتى تصير على قلبين ، على أبيض مثل الصفا فلا تضره فتنة ما دامت السماوات والأرض ، والآخر مربادا كالكوز مجخيا لا يعرف معروفاً ولا ينكر منكرا إلاّ ما أشرب من هواه ( مسلم )

له حذيفه رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : فتني زړونو ته داسي وړاندي کېږي لکه دپُزي دأوبدلو په وخت کي چي دهغه لښتي يوه يوه رامخته کېږي نو هر زړه چي همدغه فتنه ورونيسي يو تور ټکی پکي پيداشي، او هرزړه چي يې له منلو څخه ډډه وکړي يو سپين ټکی پکي جوړ شي ترڅو چي زړونه دوه ډوله شي ، يوزړه داسي سپين شي لکه ښويه ډبره بيا هېڅ يوه فتنه ورته ترهغه وخته پوري ځور نشي پېښولای ترڅو چي اسمانونه او زمکي ولاړي وي او بل تک تور شي لکه کړه

کوزه (چي هيڅ شی نه پکي پاته کيږي ) چي نه خو نيک کار ښه ګڼي او نه کومه ګناه ګناه ګڼي او هغه څه کوي چي خوښه يي شي.

(۱۵) له قرانکريم څخه تنګيدل:

د اسلامي هيوادونو تلويزيونونه عادتاً دقرانکريم په تلاوت پيل کيږي او چي کله بنديږي هم د قرانکريم په تلاوت سره پايته رسيږي او ليدونکی چي کله تلويزيون خلاص کړي او تلاوت پکي وموميي تاسوبه ليدلي وي چي غږيي ښکته کړي او چي کله ډرامه او يا خبرونه او يا کوم بل پروګرام چي دهغه خوښ وي پيل شي غږيي لوړ کړي.

دليدونکي دا ډول سلوک له قرانکريم سره دا جوته کوي چي هغه دقرانکريم له تلاوت څخه تنګيږي داځکه چي دډرامو او فلمونو مينه او دقرانکريم مينه په يوه زړه کي نه سره يوځای کيږي لکه چي شاعر وايي :

حب الكتاب وحب الحان الغنا　　　　في قلب عبد ليس يجتمعان

دکتاب الله مينه او دسندرو اودموسيقي مينه دا دواړه د بنده په زړه کي نه سره يوځای کيږي ؟

او هغه څوک چي له قرانکريم څخه مخ واړوي دهغه لپاره بوږنوونکی انجام دی الله تعالی فرمايي :

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى (124 ) سورة طه

اوچاچي زما له ياد (قرانکريم ) څخه مخ واړولونو دهغه لپاره تنګ ژوند دی او دقيامت په ورځ به يي په غبرګو سترګو ړوند راپاڅوو.

ځيني کسان پخپل کورکي دتلويزيون دساتلو لپاره بيلابيلي پلمي جوړوي ، ځيني وايي چي که په کور کي تلويزيون ونلرم ماشومان مي دګاونډي کورته ورځي او هلته يي ګوري ، ځيني بيا وايي چي ماشومان مي په کور کي نه ايساريږي اوپه کوڅه کي له نورو ماشومانو څخه بدخويونه زده کوي ځکه مي دهغوی دمشغولتيا لپاره تلويزيون راوړی دی، ځيني بيا داوايي چي ددي په ځای چي له نورو کسانو سره په غيبت کولو بوخت شم تر دي داغوره ده چي تلويزيون ته کېنم دا داسي مثال لري لکه چي ويل کيږي له بارانه تښتيدلم ناوي ته کېناستم.

هغوی ځکه داوايي چي دماشومانو وخت ورته ارزښت نلري خو مونږ همدغو وروڼو ته وايو چي ماشومان په ليک او لوست اخته کړی، هغوی ددين په زده کولو مکلف کړی ، دهغوی دوخت خلاء په ګټورو شيانو ډکه کړی، چي دهغوی جسمي او روحي روزنه پکي وشي، دتلويزيون کتل دکوڅي له لوبو څخه زيات خطرناک او له فساد څخه ډک دی ، په کوڅو کي دصحابه وو زيات تروماشومانو هم لوبي کړي دي ، حتی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به په ماشومانو تيرېدلو چي هغوی به په لارو او کوڅوکي لوبي کولې او رسول الله صلی الله عليه وسلم به سلام وروا چولو او په کوڅه کي يي دهغوی په لوبو کوم اعتراض ندی کړی ، په همدغو ماشومانو کي حسن او حسين رضي الله تعالی عنهم هم وو چي لوبي به يي کولې او رسول الله صلی الله عليه

وسلم به ليدل.

(۱۶) دمسلمانانو په زړونو کي وېره اچول:

دتلوېزيون په مخ ددښمنانو جنګي مشقونه دهغوی وسلې او جنګي سامان الات ښکارېږي او هغوی خپلي قواوي او ذره وي وسلې او په پراخه پيمانه ورانوونکي بمونه او زهرجن کېمياوي غازونه بې پايلتهٔ الوتکي او موډرن ټانګونه دننداري لپاره وړاندي کوي، چي دا دنړۍ والو سترو استعماري ځواکونو هيمنت څرګندوي ، بېوزله مسلمان وګړی هرو مرو دا فکر کوي چي دهمدې ځواکونو مقابله هېڅوک نشي کولای او دهغوی وېره يي زړه ته ننوزي او دايي هېرېږي چي الله تعالی په هرڅا برلاسی دی او دهغه ځواک او قدرت ته هېڅ مادي قوت نشي تم کېدلای ، او هغه کولای شي دسترګو په رپ کي دهغوی داځواکونه له کار څخه وغورځوي .

الله تعالی فرمايي:

بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (117) سورة البقرة

الله تعالی داسمانو نو او زمکي پيدا کوونکی دی او کله چي ديوه شي دپيدا کولو اراده وکړي نو صرف دومره ورته ووايي چي وشه نو هغه سمدلاسه وشي.

بل ځای الله تعالی فرمايي:

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (40) سورة النحل

مونږ چي کله ديوه شي دپيداکولو اراده وکړو صرف دومره ورته وايو چي وشه او هغه وشي.

بل ځای فرمايي:

وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ (50) سورة القمر

او مونږ چي کله ديوه شي دپيدا کولو اراده وکړو نويوځلي ورته حکم کوو لکه دسترګو يوځلي رپ.

همدا راز الله تعالی هغو مؤمنانو ته چي له کفارو څخه وېرېږي فرمايي:

أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (13) سورة التوبة

ايا تاسو له دوی (کفارو) څخه وېرېږئ الله تعالی ددې زيات حق لري چي تاسو ورڅخه ووېرېږئ که تاسو (په رېښتوني معنا) مؤمنان ياست.

(۱۷) د حرامو کارونو ښوول:

په تلوېزيون خپرېدونکي مواد ډرامې ، داستانونه او فلمونه ليدونکي او کتونکي ته دغلا کولو، داړې اچولو، دشرابو دجوړولو او څښلو غوره لاري چاري وربښيي ، غلا کوونکي ته داښيي چي دغلا کولو کاميابه

طريقه کومه وي او غل کومه څېره بايد ځان ته خپله کړي ، همدا رازدنامشروعو اړيکو دجوړولو او ساتلولاري چاري ليدونکي ته ورښيي .

داذکر شوي (۱۷) مواد ټول هغه شيان دي چي اسلامي شريعت حرام ګرزولي دي او کله چي ديوې داسي غيرضروري الي په وسيله دا ټول حرام مواد ديوې مسلماني کورنۍ انګړ ته دکور مالک او سرپرست دننه کوي چي هغې ته کومه بنيادي اړتيا نه لېدله کېږي مونږ دهمدغه کور مشر چي دومره محرمات د يوې برقي الې په وسيله دخپل کور انګړ ته دننه کوي په کوم نامه بللای شو؟ راځۍ چي دالاندي حديث شريف ولولو او هغه نوم ورته غوره کړو ؟

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ثلاثة حرم الله تبارك وتعالى عليهم الجنة مدمن الخمر والعاق والديوث الذي يقر في أهله الخبث (الترغيب والترهيب)

له عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : په دريو کسانو الله تعالی جنت حرام ګرزولی دی ، دشرابو نشه يي ، دوالدينو نافرمان او هغوی ته ضرررسوونکی، او هغه دهوس چي پخپل کور کي مرداري او پلېد توب ته ځای ورکوي .

يا ابن ادم لا تغرك عافية — عليك شاملة فالعمر معدود
ما أنت إلا كزرع عند خضرته — بكل شيء من الأوقات مقصود
فإن سلمت من الآفات اجمعها — فأنت عند كمال الأمر محصود

اې انسانه په خپل ښه حالت مه غولېږه ځکه دعمر شپې دګوتو په شمېر دي ته خو هغه شنې کرهنې ته ورته يې چي دهرڅا يي خوړلو ته شوق کېږي که ته له هرډول ستومانيو او ځورونو څخه وساتل شې خو چي کله بشپړ شې بيا به ضرور وربېل شې .

په دې اساس مسلمان ته په کار ده چي دخپل کور انګړ له داسي پليدو الاتو څخه لکه تلوېزيون پاک وساتي او د ځان او اولادونو قېمتي وخت دداسي څه په لېدلو ضايع نکړي چي ګټه خو يي هېڅ نه وي بلکه سرچپه ورته ددنيا او اخرت ستر تاوانونه پېښوي .

راځئ سرله نن څخه داهوډ وکړو چي که دکور په دننه کي تلوېزيون لرو هغه لېري کړو دخپلو کورونو انګړونه سر له نن څخه پاک کړو ، که يي نلرو دا هوډ وکړو چي داډول توکي به کله هم کورونو ته رانه وړو خپلو اولادونو ته هم دداسي الاتو دبدمرغي اړخونه بيان او څرګند کړو دخبرونو د اورېدلو لپاره يوازي په راديوګانو او ورځپاڼو اکتفاء وکړو پدې عمل به هم الله تعالی راڅخه خوشاله وي او هم به مو دکورونو انګړونه صاف او ستره ساتلي وي .